نزدیک شدن

روشن
ROSHAN

د عاجله خپرولو لپاره!

مطبوعاتي اعلاميه

د روشن مخابراتي شرکت مشارکت د فېسبوک سره د دي ټولنيزې شبکې د کاروونکو د لا ښه لاسرسی لپاره په افغانستان کې

د لیندۍ ۸ مه ، ۱۳۹۶ (کابل، افغانستان) – روشن؛ د افغانستان مخکښه مخابراتي کمپنۍ، د دې کمپنۍ په ډیټا مرکز (Data Centers) کې د فېسبوک د سرورونو (Servers) د ایښودلو لپاره د فېسبوک له کمپنۍ سره د ګډې همکارۍ یو ټرون لاسلیک کړ. د دې ټرون پر اساس، د روشن پېرودونکي په ټول افغانستان کې کولای شي چې د فېسبوک ټولنیزې شبکې محتویاتو ته په ښه کیفیت او لوړ سرعت لاس رسی ولري.

فېسبوک په افغانستان کې ګن شمېر مینه وال لري. د احصایې له مخې په افغانستان کې شا او خوا ۶ میلیونه تنه فېسبوک کاروي. د روشن مخابراتي شرکت رسمي فیسبوک پاڼه @RoshanConnects چې ترټولو زیات تعقیب کوونکي او یاهم Likes د خصوصي سکتور په برخه کې لري چې د ټولینزو پاڼو په مینځ کې ترټولو چټکه پاڼه ده چې ورځ تربلې یې تعقیب کوونکي مخ په زیاتېدو دي او د ۱,۳ میلیونو څخه ډېر خلک دا پاڼه تعقیبوي.

د روشن مخابراتي شرکت د اجراییوي رییس مرستیال الطاف لدک وویل:" یوازې څو کاله د مخه، ټولینزو شبکو ته لاس رسی خورا لرې په سترګو کیدو؛ خو نن، ټولنیزو شبکو ته لاس رسی د پرمختګ په حال کې دی او د روشن مخابراتي شرکت دې ته ژمن دی ترڅو پېرودونکي یې وکولای شي په لوړ کیفیت سره ټولینزو رسنیو ته لاس رسی ولري." ښاغلي الطاف لدک زیاته کړه:" د روشن مخابراتي شرکت تل د تکنالوژۍ کارونې رهبریت په لاس کې درلودلی دی. روشن عملا د فېسبوک نه د خپلو پېرودونکو سره د اړیکې نیولو لپاره کار اخیستی او مهم معلومات د دې لارې نه د هغوي سره شریکوي. د ننۍ ورځې د ټرون لاسلیک هم په افغانستان کې د دیجیټلي انقلاب او یو اصلي واقعیت ښکاروندی دی."

روشن وروسته له تاسیس نه په ۱۳۸۲ کال کې تر اوسه پورې پر له پسې هڅه کړې ده چې د نړۍ تر ټولو نامتو نړیوالو تکنالوژیکي سازمانونو سره د مشارکت په مینځ ته راوړلو سره، نوی نړیوال معیارونه د نوی حل لارو سره د افغانستان د خلکو ژوند د لا ښه کولو لپاره د خپلې مخابراتي شبکې له لارې رامینځ ته کړي.

د دې هڅو پراساس ، په ۲۰۱۵ کال کې د فورچون نړیواله مجله "Fortune Magazine" روشن د هغه"۵۱ غوره شرکتونه چې نړۍ ته بدلون ورکوي" وباله. همداراز په ۲۰۱۵ کال کې د فاست نړیواله مجله (Fast Magazine) د روشن مخابراتي شرکت یې د " د ۱۰ نوښتګر شرکتونه د ټولنیزو خدمتونو په برخه کې د تکنالوژۍ له لارې" په لست کې شامل کړو.

د روشن مخابراتي شرکت په اړه:

روشن (د افغانستان د مخابراتو د پراختیا شرکت) د افغانستان مخکښه مخابراتي کمپنۍ ده چې تر ۶/۵ میلونو څخه ډېر فعاله پېرودونکي او تر ټولو غوره شبکه لري چې د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې د ۲۸۷ څخه ډیرې ولسوالۍ او ښارونه یې د پوښښ لاندې راوستې دي.

نزدیک شدن

روشن د افغانستان د بریاوو ښه بیلګه ده چې د هېواد په پرمختګ کې فعاله ونډه لري. په ۱۳۸۲ کال کې د فعالیت پیلولو څخه تر دې دمه په افغانستان کې تر ۷۰۰ میلونه ډالره زیاته پانګه اچونه کړې ده او د هیواد تر ټولو لویه پانګه اچوونکي او مالیه ورکوونکي کمپنۍ ده چې د افغانستان د کلنې داخلي عوایدو تقریبا ۵ سلنه برابروي. روشن په مستقیمه توګه د ۷۰۰ په شاوخوا کې کارکوونکي لري چې دهغو له جملې څخه ۲۰ سلنه یې ښځې دي. او همدارنګه ۳۵۰۰۰ افغانانو ته یې په غیر مستقیمه توګه د کار فرصتونه برابر کړي دي.

روشن د افغانستان بیارغوني او پرمختګ ته هراړخیزه ژمنتیا لري. د اقتصادي پرمختګ لپاره د آقا خان سپما (AKFED)، چې د آقا خان د پرمختیایي شبکې (AKDN) یوه برخه ده، د روشن تر ټولو ډیر سهم لرونکي دي چې په پرمخ وړاندې هیوادونو کې د اقتصادي زیربناګانو او شخصي تشبثاتو څخه ملاتړ کوي. همدارنګه دروشن یو اندازه پانګه اچونه د موناکو ټیلیکام انټرنیشنل (MTI) او ټیلیا له خوا تر سره شوې. روشن افغانستان ته نړیوال مهارتونه راوړي او د افغانانو لپاره د باکیفیته شبکې چمتو کولو ته ژمن دي.

د روشن په اړه د لا نورو معلوماتو لپاره www.roshan.af یا www.facebook.com/RoshanConnects ته مراجعه وکړئ. تاسو همدارنګه کولای شئ مونږ د ټویټر له لارې @roshanconnects تعقیب کړئ.

د خپلو پوښتنو د حل کولو لپاره، مهرباني وکړئ لاندني آدرس سره اړیکي ونیسئ:

شفیع شریفی

بریښنا لیک پته: media.relations@roshan.af